PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لیار ښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالی څرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نـو شمېر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (سورة البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:

پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که سخن دروغ و عمل به آن را ترک نکند، پس خداوند تعالی نیازمند آن نیست که خـوردنـی و آشامیدنی خود را ترک کند. (ریاض الصالحین)

شهادت ځلورم کال، ۱۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د زمری ۱۱ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رمضان المبارک ۱۳ مه د۲۰۱۲ م د آګست لومړی

د غزني په مقر ولسوالی کې د طالبانو پرضد پاڅون شوی

کابل، رسنۍ:

د غزني په اندړ ولسوالی کې له ولسي پاڅونه وروسته تازه راپورونه وايي چې په مقر ولسوالی کې هم خلک د وسله والو طالبانو په وړاندې راپورته شوي دي.

د لومړنیو راپورونو له مخې د غزني د بوینند کلي اوسېدونکو له تېرو څو ورځو راهیسې وسلې په لاس کې اخیستي او خپلې سیمې ته د طالبانو د ورتګ مخه نیسي.

ویل شوي چې پرون د کلیوالو او طالبـانو ترمنځ په وسله واله نښته کې دوه طالبان ووژل شول او دوه نور ژوندي ونیول شول.

د غزني ولایتي چارواکو دا پېښه تایید کړه او ویې ویل چې د مقر په بوبند سیمه کې هم د اندړو په شان ولسي پاڅون شوی دی.

د غزني د والي ویـنـدوی فضـل محـمـد سباوون وویل چې د بوبند خلک د خپـلـو کورونو د ساتنې لپاره د طالبـانـو پرضـد راپورته شوي دي.

ښاغلي سباوون ادعا وکړه چې حکومت یا نړیوالو ځواکونو له پاڅونوالو سره هیڅ راز مرسته نه ده کړې.

دا په داسې حال کې ده چې وسـلـه والـو طالبانو د اندړو پاڅون د حکومت په لمـسـه بللی او پاڅونوال اربکیان بولي.

په اندړ کې له پاڅونه وروسته د فاریاب په المار ولسوالی، بادغیس، د لغمان په بادپښ او الینګار ولسوالیو او دغه راز د پکتیا په څو سیمو کې ورته پاڅونونه شوي خو وسله وال

پاتې ۴ مخ

محمدي:

د افغانستان پر سرحدي سیمو راکټي بریدونه پاکستاني پوځیان کوي

د پاکستان د راکټي بریدونو د غبرګون لپاره د مشرتابه امر ته منتظر یو

کابل، رسنۍ:

د افغانستان د کورنیـو چـارو وزیـر بسم الله محمـدي وایي، د دوی څېړنو ښودلې چې د افغانسـتـان پـه ختیځو سرحدي سیـمـو راکټي بریدونـه د پـاکسـتـان د پـوځ او استخباراتو له خوا کېږي.

ښاغلي محمدي د سې شنبې په ورځ د مشرانو جرګې په عمومي غونـډه کې د هغو توغندیو تصویرونـه هـم رسنیو ته وښودل، چې پر کونړ او ځینو نورو ولایتونو د پـاکسـتـان لـه خوا راغلي دي.

ښاغلي محمدي وویـل، چې دغه ډول درنې او پرمـخـتـلـلـې وسـلـې یوازې او یوازې د پاکستان له پوځ سره دي:

"دغه پېښه د سږ کال موضوع نه ده، تیر کال هم د پاکستـان لـه لـوري توغندي راتلل او اوس هـم دوام لري.

په دې کې هیڅ شک نشته چې دغـه توغندي د پـاکـسـتـان د پـوځ او استخباراتو له خوا راځي، ما دلـتـه تاسې تـه د دغـو وسـلـو ځـیـنـي تصویرونه راوړي چې ما له کونړي

پاتې ۴ مخ

موافقت افغانستان و پاکستان برای ایجاد یک کمیسیون مشترک برای مذاکرات صلح با طالبان

کابل، رسانه ها:

گزارش ها حاکی از آن است کـه افغانستـان و پـاکـسـتـان در یـک پیشرفت مهم دو جـانـبـه تـوافـق کردند تا برای مذاکره بـا طـالـبـان افغان مستقر در "وزیرستان شمالی" پاکستان، یک کمیسیون مـشـتـرک صلح تشکیل دهند.

انتظار می‌رود که این مذاکرات در طول سفر "صلاح الـدیـن ربـانـی" رهبر شورای عالی صلح افغانسـتـان به پاکستان که قرار است ماه آینـده میلادی صورت گیرد انجام شود.

"عمر داوودزی" سفیر افغانستان در پاکستان به روز دوشنبه تأیید کـرد که کابل و اسلام‌آباد در حال نهایی کردن جزئـیـات طـرح تـشـکـیـل کمیسیون مشترک صلح در سـطـح سیاسی و دیپلوماتیک هستند.

به گفته وی، صلاح‌الـدیـن ربـانـی فرزند "برهان‌الدین ربـانـی" رهـبـر

بقیه در صفحه ۴

هاشمزی: تصویب قانون منع مصارف گزاف عروسی ها دشوار است

کابل، رسانه ها:

یک مشاور ارشد حکومت می گـویـد، در صورت مخالفت اکثریت وکلای پـارلـمـان تصویب قانونی که بتواند از مصارف گـزاف عروسی جلوگیری کـنـد، خـیـلـی دشـوار خواهد بود. بعداز سقوط رژیم طـالـبـان در سال ۲۰۰۱ میلادی، افغـان هـا کـه عـایـد سالانهء آنها کمتر از ۴۰۰ دالـر امـریـکـایـی است، برگزاری جشن عروسی با هزینه هـای بلند، از سر گرفته اند.

اما وزارت عدلیه افغانستان بعد از شـکـایـت خانواده های دامادان که آنها به هر خواسـت عروس و خانواده او موافقه کند و مجبور بـه پرداخت این مصارف مـی بـاشـد، مـسـوده قانونی را برای جلوگیری از ایـن مـصـارف، ترتیب داده است.

محمد قاسم هاشمزی مشاور وزارت عدلـیـه افغانستان گفت:

"وزارت عدلیه خواست که از طریق محدود کردن شمار مدعوین، جلوگیری از موسیقی پر سرو صدا و دیگر مصارف بیجا یک نظـم و ترتیب را در عروسی ها به مـیـان آورد.»

وی افزود که تعاملات ما در عـروسـی هـا طوری تغییر کرده که اسلامی نیست.

محمد قاسم هاشم زی مشاور وزارت عدلیـه افغانستان در ادامه صحبـت اش بـه رادیـو آزادی گفت، از لحاظ عملی اگر این قـانـون

بقیه در صفحه ۴

کمک مالی نمیتواند یک اقتصاد متکی بخود را در افغانستان ایجاد کند

کابل، رسانه ها:

ماه گذشته ۷۰ کشور جهان در کـنـفـرانـس توکیو تعهد نمودند که در چهار سال آیـنـده ۱۶ ملیارد دالر کمک انکشافی به افغـانـسـتـان می رسانند.

نویسنده گان مطلب در روزنامه فاینتشل تایمز احمد رشید تحلیلگر سیاسی و ژورنـالـیـسـت مشهور پاکستان و الکسیس کـروا کـارمـنـد مرکز تحقیقاتی چاتهم هاوس در انگلستان بـه این باورند که بار دیگر مقدار زیاد این پولـهـا به هدر خواهد رفت، زیرا در چند سال اخـیـر ثابت شد که صرف کمک مالی نمی تـوانـد یک اقتصاد متکی بخود را در افغانستان ایجاد نماید.

به نظر آنها بعد از خـروج قـوای خـارجـی، افغانستان باز هم یک کشور آسـیـب پـذیـر خواهد بود که از یکسو به تهدید طالبان و از سوی دیگر با مشکل جنگ سالاران و اقتصاد که نمی تواند برای مردم جـای کـار ایـجـاد کند، دست به گریبان خواهد بود.

به نوشته روزنامه فعلاً در افغانستان ستراتـیـژی

بقیه در صفحه ۴

سنګین:

د هېواد پوهنتونونه به د نړۍ له پرمختللو پوهنتونونو سره وصل شي

کابل، رسنۍ:

په هیواد کې د لوړو زده کړو د کیفیت د ښـه والي په موخه د مـخـابـراتـو او مـعـلـومـاتـو ټکنالوژۍ او لوړو زده کړو د وزارتونو تر منځ هوکړه لیک لاسلیک شو.

د مخابراتو او معلوماتـي ټـکـنـالـوژۍ وزیـر امیرزي سنګین وویل چې ددې هوکړه لیـک له مخې به د هیواد پوهنتونونه د نوري فایبر لـه لارې له نړیوالو پوهنتونونو سره وصل کـړی شي.

نوموړي زیاته کړه چې په پیل کې به د کابـل

پاتې ۴ مخ

په فساد کې څوک زیات ښکېل دی، نړۍ واله ټولنه که افغان دولت ؟!

عبدالله کامه وال

ولسمشر کرزي د ادا ري فساد پرضد د مبارزې او په دې هیواد کې د اصلاحـاتـو او ښې حکومتدارۍ لپاره یو نوی فـرمـان صادر کړ چې یوسل او څلور شپیته مـادې لري اوپه متني او زماني لحاظ ډېر جـدي هم بلل کیږي.

خو څېړونکي او عام خلک وايي، چې په افغانستان کې د اداري فسـاد د ﻣﺠـرړو ایستلو لپاره یـوازې د فـرمـان صـادرول کافي نه دي بلکې د دوی په خبره عمـلـی کول یې اړین او حتمي کـار دی ځـکـه ولسمشر ډېر ځله دادول ګـواښـونـه او ګوتځنډنې کړېي خو عملي کول ی بـیـا دوس نه بهر وي د دوي پـه نـظـر چې دفساد دلمنځه وړلو لپاره قوي عزم پـخـه اراده اوقاطعت پکار دی چې داځانګړنې په دې یولسو کلو کې په ولسمشر کې نه دي لیدل شوي که چیرې ولـسـمـشـر پـه ریښتیا دفساد سره دمبارزې تکل لري نو د ته پکار وه هغه دوسی چې دځـارنـوالـی لخوا څېړل شوي اومجرمان یی هم معلوم دي لکـه دکـابـل بـانـک مسـلـه چې دافغانستان وقار اوملي اقـتـصـاد تـه یـی سخت ګزار ورکړاو یاهغه اسـنـاد دچې داداري فسادسره دمبارزې دمشر عزیز الله لودین له لورې ولسي جرګـې اومشـرانـو جرګې ته وړاندې شوي دهغودمجریمینو دنیول کیدو امر کړی وی نوبیا به ولـس اونړۍ واله ټولنه باوري شـوې وه چې ولسمشر په ریښتیـا دفـسـاد پـه وړانـدې دریښتونې مبارزې هوډ لري خـو داسـې ښکارې چې ولسمشر هم وخت ته دیکـه ورکوي او له هغه فشارونو له امله چې پـه ملي اوبین المللي کچه ورسـره مـخ دی دځان خلاصونې لپاره یوه لار لټوي.

پاتې دویم مخ

پاکستان افغان کډوال له کارتونو سره سره افغانستان ته لېږي

تاند، کابل:

پاکستان په پلان کې لري ، افغان کډوال، چې د راپورونو له مخې د نړۍ تـر ټـولـو زیـات کډوال دي، د روان عیسوي کال تر پایه بیرته خپل هېواد ته ستانه کړي.

یو شمېر کارپوهان په دې نظر دي چې دا کار به په افغانستان کې ستونزې لا پسې زیاتـې کړي، ځکه چې د دوی په باور افغانسـتـان لـه مخکې نه له طالبانو سره په جګړه کې ښکېـل دی او اقتصاد یې د لوېدیځوالو په مرسته او د مخدره موادو په بې قانونه قاچاق ولاړ دی.

لویدیځوال او ملګري ملتونه په پاکستان زور اچوي څو په خپله پالیسي بیـا غـور وکـړي. ملګري ملتونه وایې چې نړیواله ټولنه او افغـان حکومت دې ته هېڅ چمتوالی نه لري چې پـه دومره غټه کچه له کډوالو سره مرسته وکـړي او سرپناوې ورته برابرې کړي.

که څه هم د پاکستان یو لوړ پوړي چارواکـي حبیب الله خان، چې د افغان کـډوالـو ددغـه

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ټولو بدبختیو یواځینی علاج سوله بیز ژوند دی

د الشرق الاوسط ورځپاڼې پخپل په یو راپور کې لیکلي دي چې د دوبی په وروستی ناسته کې طالبان دېته چمتو شوي دي چې له القاعدې ځان بېل او اساسي قانون ومني، دوه طالب مشرانو، یوه پخواني جهادي کس او یو نارسمي افغان منځګړی، چې له طالبانو سره اړیکې لري پخپلو خبرو کې ویلي دي چې د یوې لسیزې په تېرېدو طالبان د خپلو تجربو پر بنسټ نوی واقعیت ته رسیدلي دي او ټولو پریکړه کړې ده چې له القاعدې نه ځان خلاص او اساسي قانون ومني.

عقل منطق او زمکني حقایق دارا په ګوته کوي چې د افغانانو په وړاندې له خپلمنځي اتفاق او یووالي پرته بل هیڅ لاره نشته، د تېرو څو لسیزو تجربو دا ثابته کړه چې په افغانستان کې یو مستحکم او پایداره حکومت، نه د خپلمنځي جګړو له لارې راتلی شي او نه هم د بهرنیو هېوادونو په مداخلو او دهغوی په وړاندې د غلامی د سر د ښکته کولو له لارې، کمونستانو پر خپل ولس د اعتماد پر ځای دهغه وخت لوی طاقت شوروي اتحاد باندې اعتماد وکړ او دهغوی په وړاندې د بشپړ غلامي سرونه ښکته کړل، خو هیڅ ګټه یې ونکړه، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د یرغلګرو روسي ځواکونو په خلاف خونړی جګړې پیل شوې د هېواد لویشت لویشت زمکه د افغانانو په وینو سره شوه او بالآخر روسي اشغالګر پوځ هم مات ګوډ شو او دهغوی ګوډاګیان هم له واکه وغورځېدل، د کمونستانو له پرځېدو وروسته چې په اقتدار د قبضې لپاره کومه ناروا لاره خپله کړې شوه او د عمومي انتخاباتو پرځای د څو زرو تنو د اهل حل و عقد د شورا د ډرامې له لارې پر اقتدار کومه ناروا قبضه وشوه دهغې بدې پایلې هم موږ پخپلو سترګو ولیدلې بیا د وسلې په زور د طالبانو واک ته رسېدل او د القاعدې د میزباني په تور د امریکا او ناټو غړو هېوادو د مستقیم پوځي برید له لارې د هغوی واکداري ړنګېدل او پر ځای د کرزي په مشري یو بل حکومت جوړېدل او پر خلاف یې د بهرنی ځواکونو د شتون تر عنوان لاندې د وسله والې جګړې پیلېدل دا ټولې پېښې په دې واقعیت دلالت کوي چې افغانان د یو ښه راتلونکی او مستحکم افغانستان لپاره داسې یو جامع او هر اړخیز حل ته اړتیا لري چې راتلونکي لپاره له ټولو بدبختیو، جنګ جګړو او د مختلفو هېوادو په غېږ کې له لوېدو نه بشپړ خلاصون ور په برخه کړي او دا خلاصون هله متحقق کېدلې شي چې افغانان په سلو کې سل د نورو هېوادو له ذهني غلامي او لاسوهنو پرته سوچه بین الافغاني تفاهم ته کیني، یواځې او یواځې د افغانستان د خاورې او اولس ګټې په نظر کې ونیسي او اقتدار ته د رسېدو لپاره پر پردیو هېوادونو د تکیې پرځای د خپل ولس د رایو احترام وکړي.

که موږ یو ساعت لپاره خپل سرونه په ګریوان کې ښکته، او د خپلو مسائلو او کړاوونو په اړه ژور غور وکړو نو ضرور به دې نتیجې ته ورسېږو چې موږ د څو لسیزو راهیسې د پردو پر مټ له څومره بهرني او داخلي کړاوونو سره اخته یو ددې ټولو اصلي لاملونه خپلمنځي ناروا اختلافات، د یو بل نه زغمل او د زور له لارې اقتدار ته د رسېدلو ذلیلانه شوق دی. تر څو مو چې له دغه منحط او پریوتې حرکت نه لاس نه وي اخستې نو پخپل ټول ژوند کې به د یو مستقل، متحد او یو موټې افغانستان خاوندان نه شوو، نو ځکه په سملاسي توګه د افغانانو تر ټولو ستر او مهم مسؤولیت دا دی چې د تېرو ترخو تجربو او زمکني حقایقو په نظر کې نیولو سره د بې اتفاقی او اختلافاتو دروازې له یوې مخې بندې او یو بل ته د صداقت، یووالي او ورورولی لاسونه ورکړي، د هېواد او ولس د بهبود او پرمختګ لپاره یو دریځ او یو شعار خپل کړي.

د افغانستان ټول سیاسي ګوندونه او اشخاص په دې واقعیت ښه پوه دی چې تر څو پورې پخپله په افغانستان کې دننه ملي وحدت تأمین نه شي، د غیر قانوني او له ځانه جوړ شویو ناروا اختلافاتو خطرناک او مهلک مکروبونه په نطفه کې خنثی نه کړی شي نو د بهرنیو لاسوهنو مخه په هیڅ حالت کې نشي نیول کېدې.

زموږ په وړاندې اصل واقعیت د لمر په څېر څرګند دی زموږ کمزوریانې او کوتاهیانې هم له ورایه ګواهي ورکوي او زموږ غفلت او بې مسؤولیتي هم، د افغانستان مطلق اکثریت وګړي د ټولو کړاوونو او ناخوالو مسؤولیت پخپله پر افغانانو اچوي او ددې ټولو بدو عواقبو اصلي باعث پخپله افغانان ګڼي، که افغانان د خپل سیاست قبله صحیح او د قانون په چوکاټ کې دننه د خپلو فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره له مسؤولیت نه ډک ګامونه پورته کړي نو له څه شک پرته د بهرنیو مداخلو دغه تنده لړۍ چې اوس روانه ده که په بشپړه توګه یې مخه ونه نیول شي په سلو کې نوي خو ضرور نیول کېدې شي ځکه چې هغوی خپلې زیاترې مداخلې او لاسوهنې زموږ پر اوږو د ټوپک د ایښودلو له لارې ترسره کوي.

الله دې وکړي د طالبانو په شمول ټول سیاسي مشران او سپین ږیري د حالاتو نزاکت درک او د څو لسیزو راهیسې روان ناورین ته د پای ټکی د ایښودلو لپاره د خپل رب او مظلوم ولس په وړاندې خپل اسلامي او افغاني مسؤولیت په صحیح معنی ترسره او د دواړو جهانو سرلوړی ترلاسه کړي.

په فساد کې ځول زیات ښکېل دي، نړۍ وال ټولنه که افغان دولت ؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

ځکه افغان دولت په ملي او بین المللي سطح دسختو ننګونو سره مخ دی اوویل کېږي چې د نړیوالو د لس کلنو مرستو ډیری برخه یا شخصي جیبونو ته تللي او یاهم سمه نه ده لګیدلې افغان حکومت او نړیواله ټولنه د هغو ملیاردونو ډالرو مرستو په سمه توګه نه لګولو کې یو بل ملامتوي؛ چې په تیرو لسو کلونو کې بیلابیلو هیوادونو له افغانستان سره کړي دشوي فساد پړه یواځې په افغان دولت نه ده پدې کار کې ورسره بهرنیان سم ککړ دي.

افغان حکومت وایي، چې د نړیوالو مرستو یوازې په سلو کې شل دوی ته ورکړل شوي.

د مالیې وزارت په وینا چې په تیرو لسو کلونو کې نړیوالې ټولنې له افغانستان سره اوه پنځوس ملیارده ډالر په ملکي برخه کې مرسته کړې؛ چې لس ملیارده یې د افغان حکومت له خوا او پاتې برخه یې د بهرنیو موسسو او هیوادونو له لارې لګول شوي افغان دولت نیوکه کوي چې نړیوالو په دې هیواد کې خپلې مرستې د افغان حکومت د لومړیتوبونو له مخې نه دي لګولي او ډیرې پیسې یې د بهرنیو سلا کارانو پر معاشونو، په لنډ مهاله او تبلیغاتي پروژو لوکسو موټرو اوتخنیکي مسایلو لګولي دي نړۍ والې ټولنې هر هغه څه چې دوی ته ضرورت و او دوی ته اړین ښکاریده ترسره کړي که حقیقت ته نظروکړو ریښتیاهم هغه مرستې چې پرافغان ولس یې حسابوي پداسې شیانو لګولي چې د دوي د تګ سره سم یې ارزښت اواړتیا هم له منځه ځي دبیلګې په توګه په هغه ځایونو کې چې دوی اوسیږي ددیوالو په توګه له شګو ډکو شوو بوریو کار اخلي چې یواځې دباران اولمر مقاومت هم نه لري اوډیري ځایونو کې همداا وس له منځه تللي پداسې حال کې چې پرهمدې لګښت پاخه اوسیمتي دیوالونه جوړیدل داوادېته ورته نور زیات کارونه اوپروژې دي چې دلنډې مودې لپاره ترې کار اخیستل شوی خو لګښت پرې دیوې بنسټیزې پروژې شوی

د اسې ویل کیږي چې په افغانستان کې د مرستو د څیړلو لپاره یوځل د جرمني او دوه ځلې امریکایي پلاوي راغلل؛ خو د نه همکاری له امله ونه توانیدل چې لازمه څیړنه ترسره کړي ځکه نه زموږ چارواکو اونه هم نړۍ والو غوښتل چې غلااولوټ تالان یې ښکاره شي هغوی بیرته ناکام ستانه شول اویا به هغوی هم خپله برخه اخیستي وي ځکه هغوی به هم زموږ دچارواکو دخپل وطن سره مینه لیدلې وي چې داپروطن اوخاوره مین مشران یې غم نه خوري نو زموږ څه په سر درد دې او یا دکوزنو په اصطلاح سنډاراباندې پښه ایښې.

ولسمشرکرزي هم څه موده مخکې په یوه خبري ناسته کې نړیواله ټولنه ملامته کړه؛ چې خپلې مرستې یې په افغانستان کې شفافې نه دي لګولې؛ خو ټینګار یې وکړ، چې افغان حکومت په دې برخه کې حساب ورکولو ته تیار دی چې زه نه پوهیږم دولسمشر دحساب ورکولومرجع کومه ده که هدف یې نړۍ واله ټولنه وي خو هغوی تر افغان دولته زیات په فساد کې ښکیل"دي اوکه هدف یې ولس وي نو بیا خودې مزې کوي ځکه ولس هسې هم له وړاندې یرغمل دی اوپه سمت ، مذهب ، ژبه او ډلو ویشل شوی اودهرې ډلې مشر ستا له

وروستي څیړنې داپه ډاګه کوي چې د نړیوالو د مرستو لوړه فیصدي بیرته هغو هیوادونو ته انتقال شوې؛ چې له افغانستان سره یې مرستې کړي دي خو:

"کومې مرستې چې د افغان حکومت له لارې لګول شوي، په هغې کې هم دفساد کچه لوړه ده، د نړۍ ډېرې غریب او وروسته پاتې هېوادونه دا مشکل لري چې نشي کولای د مرسته کوونکو هیوادونو مرستې وځاري او په سمه توګه یې مصرف کړي نو همدا علت دی چې د هغوی د مرستو له سلونه اتیا بیرته مرسته کونکو هیوادونوته ورځي چې افغانستان هم له همدې هېوادو له جملې افغان حکومت هم له بده مرغه نه د لومړیتوبونو د څرګندولو په برخه کې کامیابه پلان لري اونه دلګول شوو پیسو دڅارنې کومه اداره چې دالګښتونه وځاري نوهمدا علت دی چې راغلی پیسې بیرته مرسته شو هیوادوته تللي .

افغان حکومت وایي، هغه پروژې چې د بهرنیو هیوادونو او موسسو لخوا په افغانستان کې عملي شوې د حکومت په پرتله دوه او یاهم درې برابره پیسې پرې لګیدلې، داسمه ده خو که چیرې پروخت دې ټکي ته

پاملرنه شوی وای نو اوس به نه د نړۍ والو له پیغورو سره مخ و اونه به په کور دننه ددومره سترو ننګونو سره لاس اوګریوان و.

د مالیې وزارت سلا کار نجیب منلي وایی چې په افغانستان کې بهرنیو سلا کارانو ته په میاشت کې حتی پنځوس او شپیته زره ډالر تنخوا هم ورکړل شوېده زه نه پوهیږم چې دسلاکارانو دلته کوم فیل له لکې نیولی و.

بهرني هیوادونه بیا وایي، چې دولتي چارواکي په اداري فساد کې لاس لري او دومره پیسې یې غلا کړي چې حتی په دوبی او نورو هیوادونو کې یې جایدادونه او ملکیتونه اخیستي دي.

خو څه موده وړاندې نړۍ والې ټولنې په توکیو کې یو ځل بیا دمرستو ژمنه وکړه چې داهم یو بل فرصت دی چې موږ ته یې نړۍ وال راکوی نو راځئ چې ددې مرستو د لګولو په برخه کې له پوره دقت او پلانګزارۍ کار واخلو داسې نه چې بیا له ورته پیښو او ناکامۍ سره مخ شو.

موږ باید نړیوالو ته دا زمینه مساعده نکړو چې خپلې دا مرستې په افغانستان کې د فساد له امله تعلیق یا شاته واچوي."

د توکیو په نړیوال کنفرانس کې نړیوالې ټولنې او افغان حکومت په متقابل حساب ورکولو ټینګار کړی او ولسمشر کرزي ژمنه کړې چې د اداري فساد پرضد به جدي مبارزه کوي زموږ دعاده چې ولسمشر داخل ریښتوني ملي مصلحتونه په نظر کې ونیسي او خپل نوي فرمان ته دعمل جامه واغوندي.

آمین

امتیازاتو برخمن دی ولسمشر وایی:

کومې پیسې چې افغان دولت ته نه دي ورکړل شوي او نړۍ والې ټولنې په خپله لګولې؛ د هغې حساب به نړۍ واله ټولنه ورکوي چې موږ ورسره په خبرو بوخت یو اوپه هغې برخه کې دفساد کچه هم لوړه ده

د اقتصادي چارو کارپوهان وایي: په تیرو لسو کلونو کې چې په افغانستان کې د بیارغونې په برخه کې څه شوي؛ ښایي ارزښت یې یوازې شل ملیارده ډالرو ته ورسیږي؛ یعنې اوه دیرش ملیارده ډالر یا ضایع شوي او یاهم پرسمو پروژو نه دي لګول شوي پدې پراخه لوټمار کې نړۍ واله ټولنه اوافغان دولت برابر شریک دي پدې خرد برد کې ورسره زموږ داملیاردر دشهرکونوپلازو او حتی دهوایی کرښو مالکان چارواکي هم شامل اوسهیم دي اوپه ډیر بې دردۍ او بې رحمی یې دایو لس کاله لوټ تالان وکړ .

چې افغانان له ولسمشر کرزي په لومړي سر کې دهمدې بې درده چارواکو اودو لمسشردباوري ملګرو دمحاکمې غوښتنه کوي ولس وایی ولسمشر خودې یو ځل داښاغلي هم دمحاکمې میز ته راکش کړي اوله هغو خو دې د دې یولسو کلوپه موده کې په غصب شو ځمکو د جوړو شو شهرکو نو او پلازو حساب وغواړي لومړی خو دې دخپلو خپلوانو اونیږدې ملګرو بانکي حسابونه اوپه بهر کې د کورونو او نورو ملکیتونو حساب واخلي بیا دې نړۍ واله ټولنه ګرموي،

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

مصري اديب مصطفی صادق الرافعي په خپل کتاب (وحي القلم) کې داسې ليکلي: (انساني نيک بختي او خوشالي په ور کړه کې ده نه په أخستلو کې، او بد بختي يې په داسي اخستلو کې ده چې هيڅ ډول ور کړه ور سره نه وي، د انسان مثال د ميوي په شان دی، چې کله پخه شي او خوږوالی پيدا کړي، نو ښايست او ارزښت يې په دې کې وي چې خپل خوږوالي خلکو ته د خوړلو او فائدي اخستلو لپاره وړاندې کړي، او که چيرته ميوه خلکو ته د خپل خوږوالي د ور کړې نه انکار و کړي، او خوږوالی په ځان کې و ساتي، نو همدغه خپل خوږوالي به يې د ورستيدو او خرابوالي سبب شي).

معلومه ده چې ور کړه – خصوصا د الله لپاره – په اسلام کې متور اصل لري او د بهتر والي او فضيلت په باره کې يې زيات آياتونه او حديثونه هم راغلي دي.

د ميوي خوږوالي خو د فقهاوو په اصطلاح د (تحصيل حاصل) خبره ده، دا ځکه چې کله هم د ميوي نوم واخستل شي نو خوږوالي ور سره تړلی وي، مګر د انسان خوږوالي به څه وي؟

د پورتني مفهوم په رڼا کې کولای شو و وايو: لکه څنګه چې ميوه پوخوالي ته په رسيدو کې په تدريجي شکل له مختلفو مراحلو تيريږي او نمو کوي، په ونه کې غوټی پيدا شي ګل شي، تنکی دانه شي، غوره شي، پخه شي او خوږوالي پيدا کړي او د خلکو نظر ځانته را جلب کړي، همدا رنګه انسان هم په يوه تولنه کې په تدريجي شکل وده، رشد او نمو کوي، ماشوم وي، مراهق شي، پوهه زده کړي، ځوان شي، پوهنتون و وايي، رنګا رنګ تجربي لاس ته راوړي او د خلکو نظر د ځان په لور را جلب کړي. نو ارزښت، اهميت او ښايست به يې دا وي چې خپله پوهه او تجربي خپلو خلکو، د هغوي بچيانو او اولادونو ته په دې موخه چې په ورځني ژوند کې تري ګټه پورته کړي وړاندې کړي. هر څوک چې په خپلې پوهي او تجربي بخل کوي او له ځانه سره يې ساتي او خلکو ته يې د استفادي لپاره نه وړاندې کوي، د يو کتاب مثال لري، چې په هر څومره پاک، پټ، محفوظ او اوچت ځاي کې کېږدی، حتمي او ضروري به يې ويانې وهي، او يا هم د هغه ډنډ مثال لري چې زړې اوبه ترې نه وځي او نوي ورته داخليږي، نو حتمي ده چې مرداري به په کې لويږي، رنګا رنګ حيوانات به تري اوبه څښي او د انسانانو د استعمال او استفادي به نه وځي.

د يو استاذ په صفت، چې په جامعه کې د مختلفو عمرونو، سويو، ثقافتونو، اخلاقو او طبيعتونو درلودونکو خلکو سره سرو کار لري، او هميشه تري دا اميد کيږي چې له هر چا سره د هغه د عمر، سويې، ثقافت، اخلاقو او طبيعت مناسب رفتار و کړي او يو مثبت تغير په کې راوړي. زه غواړم خپلي څو تجربي د لوستونکو سره شريکي کړم، خداي دي و کړي چې د دوی د استفادي وړ و ګرځي.

زمونږ اساسي مشکل دا دی چې هميشه د احساساتو نه کار اخلو، د دې په ځاي چې تحقيق او پلټنه و کړو او يا حکمت په کار وا چوو، د زور، سوک، څپيړې، بدو الفاظو، او دښمنی نه کار اخلو، او د دې پر ځاي چې ځان، ټولني او حتی دين ته مو کار کړی وي او ګټه مو ور اړولي وي، خبره مو هميشه د بدو بد تره کړی وي.

ما په يو کتاب کې لوستلي چې، دوه عالمان د وخت د پاچا په ميلمستيا کې شريک شول، کله چې دسترخوان خپور شو، ګوري چې خواړه د سرو زرو په لوښو کې اچول شوي، د عالمانو نه يو په ډير قهر او غوصه پورته شو او وېي ويل: په الله قسم چې زه به دا خواړه و نه خورم، د سرو زرو په لوښو کې ډوډۍ خوړل حرام دي، ميلمستيايي پريښوده او ولاړ. دوهم عالم پاتي شو او د لږ ځنډ وروسته يې پاچا ته په ډيره نرمه لهجه و ويل: يو بل لوښي به نه وي چې زه پکې دا خواړه واچوم؟ پاچا د دې پرځاي چې د هغه عالم لپاره يو لوښي بدل کړي، امر و کړ چې د خوړو ټول لوښي بدل کړئ. اوس تاسي قضاوت و کړئ چې په دوی دواړو کې چا دين ته کار و کړ؟ اوس تجربي واورئ.

لومړی تجربه:

يو چا رانه د ليک په واسطه و پوښتل، (څوک چې چاته خط ليږي په اخر کې يې خپل نوم ليکي او امضا کوي، يا مهر لګوي، او رسمي مکتوبونه د امضا تر څنګ ټاپه کيږي هم، خو په قرآن کې دا شيان و جود نه لري، نو څنګه منلی شو چې دا د الله کتاب دی)؟.

دا خواب ډير اسان دی او کومې خاصې پوهې ته ضرورت نه لري، خو اهميت يې په بل ځاي کې دی. د پوښتني خاوند بې سواده نه و، ما هغه ته داسي خواب و وايه چې يو بل سوال مې ورته پيدا کړ، تر څو پخپله لټه و کړي او د موضوع په هکله دقيق معلومات پيدا کړي. ما ورته و ويل: که يو سړی درته راشي او درته و وايې چې: زه احمد را ليږلی يم، د هغه د زوي واده دی نن غرمه ۱۲ بجې يې غوښتی يې، نو ايا ته به تري د امضا، مهر يا ټاپې پوښتنه و کړي؟ زما او د هغه تر منځ خبره خلاصه شوه.

د لوی اختر ورځې وې، د دوستانو سره يو ځاي ته مبارکی ته ولاړم، د يو چا سره معرفي شوم چې په جومات يې لوډسپيکر لګولی و، د قرآن ترجمه يې کوله، ما دا پوښتنه هلته مطرح کړه، هغه د اياتونو تلاوت او تفسير ته ملا و تړله ټول اياتونه يې د توحيد په باره کې راوړل، چې دهغه دوه دليلونه مې اوس هم په ياد دي.

لومړی دليل يې دا و چې، که چيرته دا د الله نه په غير د بل چا د خوانه واي نو ډير اختلاف او تفاوت به په کې موجود واي.

بل دليل يې دا و چې، د پېچې موجوديت د اوښ په تګ دلالت کوي او قدم د انسان نو ايا دا مځکې او اسمانونه د خداي په وحدانيت دلالت نه کوي؟. خداي په اماني مو واخسته.

دا پوښتنه مې څو ځايه نوره هم مطرح کړه، په يو ځاي کې د ډاکتر فضل ربي زوی چې په هغه وخت سره د نهم صنف شاګرد و ځواب کړه او وېي ويل: قرآن لومړی شفوي رساله ده او ليک يې وروسته شوی. او څو ورځي وړاندي مې همدا سوال په يو صنف کې چې محصلين يې ټولي انجوني وې مطرح کړ يوې محصلي داسي ځواب کړ. قرآن اول ناظره راغلی وروسته بيا ليکل شوی دی.

دوهمه تجربه: څو کاله مخکې ۱۳۸۵هـ ش مې په پوهني وزارت کې تازه په کار شورع کړي وه، نا بلده وم، د دعوت جذبه مې ډيره ځوانه وه، خو دري ژبه مې ضعيفه وه، له دې کبله مې ډيرې خبرې نه کولې، يوه ورځ مې د ماسپخين لمونځ و کړ، او دفتر ته راغلم د دفتر ملازم چې يو ۱۷ کلن ځوان هلک و، له مانه پوښتنه و کړه، و يې ويل: لمونځ دي و کړ؟ ما و ويل: هو، او د ځوان د سوال نه په استفاده مې ترې و پوښتل: او تا لمونځ و کړ؟ هغه و ويل: نه. ما و ويل ولې؟ هغه و ويل: ما خو په ژوند کې کله هم لمونځ نه دی کړی.

دا هغه ورځ وه چې شاه دوشمشيره ته نږدې د قواي بشري تر څنګ انفجار شوی و، نو ما ورته و ويل: ته په کومه لار دفتر ته راغلې؟ هغه و ويل: د شاه دوشمشيره ولي په لار، ما ورته و ويل: هلته نن انفجار شوی و، هغه و ويل هو، ما ورته و ويل: خداي مه کړه که ته په دې انفجار کې مړ شوی وای؟ هغه راته په دري و ويل: (برو بابا شهيد ميشدم) د لږ ځنډ وروسته مې ورته و ويل: يو کار و نه کړو، هغه و ويل څه؟ ما و ويل: د دې ملازمتوب نه به څه زده کړي، رازه يوه شهادتنامه به جوړه کړو چيرته به مامور شي، ارام به ناست يې، د خلکو د امرونو نه به خلاص شي. هغه و ويل: (مکتب نه خواندم چطور امکان دارد مامور شوم؟) نو ما ورته و ويل: چې لمونځ دي نه وي کړی نو په شهادت به څه و کړی؟ ځوان لږ متوجه شو، او وېي ويل: (راست ګفتي) بيا تر کومه چې زه هلته وم هغه ځوان به لمونځ کولو، او اوس خبر نه يم.

دريمه تجربه: ما ته زما په دوستانو کې څوک د ډاکتر غږ کوي، څوک انجنير، څوک قاضي، څوک مولوي او ځني نور راته پوهاند. يوه ورځ په يوه دفتر کې چا يوې خور ته معرفي کړم، ورته يې و ويل: ډاکټر صاحب په ماليزيا کې شرعيات لوستلي، هغې و ويل (خيلي خوب) دوی خپلو کې مجلس کولو، دوه خبرو ته متوجه شوم: يوه دا چې دي خور و ويل (مونږ په پاکستان کې هم اشتراکي زندګي لرله) بله دا چې همدې خور و ويل: (زه خم چې پورزه واخلم بيرون ځم) دلته يې ما ته مخ راواړولو او را ته يې و ويل: (بې ادبي کيږي يو سوال لرم) ما و ويل: مهرباني، هغې و ويل: (ولي يوه ميرمن بايد د کور نه د بهر وتلو پر مهال د خاوند نه اجازه واخلي؟) ما فکر و کړ چې خور خو د اشتراکې نظر خاونده ده، نقلي دلائل به و نه مني، او سوال يې هم يو نوعه طعن دی چې اسلام ته يې متوجه کوي، نو د دوي د تيرو خبرو په اساس مې ورته و ويل: لږ مخکې تا و ويل: (زه خم چې پورزه واخلم بيرون ځم) ولې؟ دي و ويل: هر مامور چې بيرون ځي بايد اجازه واخلي، ما ورته ويل: اوس ته فکر و کړه چې د پنځو زرو افغانيو مياشتني معاش په مقابل کې ته د دفتر نه بې اجازې وتلی نه شې، او له ميړه سره دې عهد کړی، د ايجاب او قبول په وخت دې هغې ته د خپل ځان واک سپارلی، او مهمه دا ده چې ميړه ستا د ژوند د ټولو احتياجاتو: کور، کالي، ډوډۍ پوره کول په غاړه اخستي او د دې برسيره کيدای شي ستا د درملني لپاره په لکونو روپۍ مصرف کړي غواړې د هغې بې اجازې له کوره و وځي ! دې و ويل: (راست ګفتي يک نظام بايد باشد).

تبعیض و تاثیرات بد آن در اجتماع

عبدالقدیر "مهان"

تبعیض و فرق قایل شدن در نژاد، زبان و قوم اصلاً اساس علمی و اجتماعی ندارد و در عالم بشریت تنها یک نژاد وجود دارد و او نژاد نوع بشر است. انسان از بدو تولد نژاد پرست، متعصب و قوم پرست و زبان پرست بدنیا نمی آید، و بعداً اندیشه و ویروس نژاد پرستی و زبان پرستی را از والدین و سایر اقارب و نزدیکانش که بدین مرض مهلک و تباه کن دچار است کسب میکند، و سلسلتاً به سایر افراد و اشخاص بیسواد و یا کم سواد سرایت میکند؛ یعنی اینکه همه چیز بستگی به تربیت و محیط پیرامون انسان دارد.

اگر به تاریخ جهان نظر اندازیم، خیلی از جنگ ها و نبردهای خانمان سوز را سراغ داریم که باعث کشته و زخمی شدن هزارها انسان و نوع بشر و خرابی ساختمانها و زیر بناهای اقتصادی شده است که ثمره اختلاف بوده است. قسمیکه دیده میشود این همه اندیشه های تبعیضی از کشورهای پیشرفته، متمدن و با فرهنگ که نسبت به ارزش های مادی و معنوی خود و میهن شان می اندیشند، دامن برچیده است و یگانه علت و عوامل ترقی و پیشرفت این کشورها در پهلوی سایر عوامل یکی هم از بین رفتن تبعیض و فرق قایل نشدن است و بس.

ما باید باور کنیم که انسانهای خوب و بد در بین تمامی اقوام، قبایل و نژادها وجود دارد، یک زبان و یا یک نژاد و ملیت را نسبت به زبان، قوم و نژاد دیگر بد گفتن و نژاد و زبان دیگر را برتر دانستن نه تنها یک اندیشه اسلامی نیست؛ بلکه یک اندیشه و تفکر انسانی نیز نیست؛ یعنی کسیکه تبعیض دارد و قوم پرستی و زبان پرستی میکند نه تنها مسلمان کامل نیست؛ بلکه خود را از صف انسانها خارج میسازد و در قطار وصف حیوانات وبهایم قرار میدهد.

ضرب المثل مشهور است "وقتی احمقم، دارای تبعیض هستم " از این جالبتر "نه ! ولی وقتی دارای اندیشه تبعیضی هستیم احمقیم ".

تبعیض و نشنلستی در هر نوع لباس و جامه که باشد منفور و مطرود جامعه است. باید بر ضد آن با قاطعیت با خون و جان مبارزه کرد، تا سرحد نابودی افراد و باندهای فاشیستی و دارای تبعیض.

در متن از کتابی در رابطه به تاثیرات بد تبعیض و نشنلیزم چند سال قبل مطالعه کرده بودم:

دختری به پدرش میگوید: پدر جان ! میخواهم یک کلمه و جمله بی تربیتی بگویم: او اینکه "کسیکه تبعیض دارد بی شرف است " پدرش در جوابش میگوید: "کلمه ضعیفی است اما کفایت میکند ".

نشنلست و فاشست کسیکه به این مرض مهلک و کشنده دچار است میخواهد به بهانه تفاوت رنگ، زبان، محل زنده گی، شمال و جنوب، پشتو تاجک، ازبیک و هزاره و غیره ... خودش را، قومش را و نژادش را زیبا و عالی پندارد دیگران را زشت، پست و نافهم، غافل از اینکه خودش خیلی پست تر است، غول است و درجه پست تر از حیوانات و منفور جامعه و تجرید شده که همه از افراد مسلمانان و افراد با فهم و با معلومات از او نفرت دارند و به دیده بسیار بد مینگرند. نژاد پرست، قوم گرا و زبان گرا کسی است که موارد خاص را تعمیم و عمومیت میدهد مثلاً اگر یک تن از برادران قوم پشتون، ازبیک، هزاره و یا تاجک خدای ناخواسته عملی منفی و یا مسایل زبانی و قومی را دامن میزنند میگوید همه از این اقوام و یا زبان همین قسم و به همین منوال است، ما باید باور کنیم که انسانهای خوب و بد، سالم اندیش و یا مسلمان و فاشست در داخل همه از جوامع، اقوام و گروه ها و باندها وجود دارد و هیچ وقت نباید موارد خاص را بی خودی و بی تامل و روی تعصب تعمیم و عمومیت بدهیم و نباید بی تامل و ارتجالی سخن گفت.

مبارزه با تبعیض و قوم پرستی و زبان پرستی باید واکنش روتین و روزمره همه از جوانان آگاه و مسلمان ما باشد. ما باید در قدم نخست مواظب حرف زدن خود باشیم و در ثانی اگر در مقابل حرف های اشخاص زبان پرست و دارای تعصب عکس العمل نشان ندهیم و بر ضد آن مبارزه نه نمائیم در واقع ما هم در مقابل این اعمال غیر انسانی و اسلامی چراغ سبز نشان داده ایم یعنی اینکه متعصب هستیم.

"مونتنی " فیلسوف، نویسنده و متفکر فرانسوی هموطن هایش را به سفر کردن و مشاهده تفاوت ها تشویق میکرد برای او سفر کردن در مناطق مختلف و در قومیت" های مختلف بهترین وسیله برای "ساییدن مغز دیگران " بوده، دیگران را بشناس تا خود را بهتر بشناسی.

دین مقدس اسلام همچنان نژاد پرستی، قوم و زبان پرستی را به شدت مردود و ناروا دانسته، تقوی و پرهیزگاری را اساس و معیار برای شناخت و گزینش افراد قرار داده است و همه ای انسانها را به وحدت و یک پارچه گی، تعاون و همکاری دعوت نموده زیرا وحدت، همکاری و همدیگر پذیری باعث این میشود تا کشور خرابه و جنگ زده ما آباد و شگوفان گردد و بالآخره باعث حفظ استقلال و تمامیت ارضی میهن دوست داشتنی ما گردد.

بنظر نگارنده افراد و اشخاص، دسته ها و تنظیم های که مسایل زبانی و قومی را دامن میزنند و این موضوع را یک وسیله برای رسیدن به اهداف شخصی و تنظیمی شان قرار میدهند و برعکس باعث ناآرامی، تشنج و مختل شدن فضای صلح، اخوت و برادری میشوند وطن فروشان اجیر شده یی هستند که از طرف بیگانه در مقابل پول توظیف شده اند تا مقاصد شوم شان را در افغانستان پیاده کنند، چنین اشخاص اگر به دروغ ادعای از وطن پرستی نمایند و از استقلال و تمامیت ارضی سخن بگویند با اعمال و روش شان در تضاد است؛ زیرا با رفع کدورت ها، اختلافات، همدیگر پذیری ها و نداشن اندیشه های تبعیضی ما میتوانیم وحدت کامل میهن و استقلال خویش را حفظ کنیم. خلاصه در شرایط فعلی که گرگ استعمار هر لحظه برای صید و شکاری در کمین است با ایجاد شرایط یعنی ایجاد درز میان ملیت های مختلف صید و شکار دارد صیدش را بدست بیاورد و نوش جان کند. دامن زدن مسایل زبانی، گروهی و سمتی خیانتی است بس بزرگ و نابخشودنی، چنین اشخاص و گروه ها از طرف مردم مسلمان و خیر اندیش و ارگانهای عدلی، امنیتی و قضایی شناسایی و در صورت اثبات در چوبه های دار در چارراهی ها آویخته شوند تا برای سایر افراد، اشخاص و گروه های که در برنامه شان جز دامن زدن مسایل زبانی، قومی و سمتی دیگر هیچ برنامه یی ندارند پند و عبرت شده و روزنه های از خوشبختی، ترقی، وحدت، شگوفایی و برادری برای مردم افغانستان گشوده شود.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د بیارغونې پر چارو د څارنې نوی راپور

د نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، دوه کاله مخکې، چې د افغانستان په جنوبي سیمو کې د ولسمشر اوباما د ادارې له خوا د سرتیرو د زیاتولو بهیر په وروستی مرحله کې وو، امریکایي چارواکو یو شمېر پروژې په دې هیله مشخصې کړې، چې افغان حکومت ته به ولسي ملاتړ ترلاسه کړي.
ورځپاڼه زیاتوي، چې د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو له کانګرس څخه د هغه څه لپاره، چې دوي د افغانستان زیر بنایي بودیجه ونوموله څلور سووه میلیونه ډالره ترلاسه او د اوو پروژو پلان یې بشپړ کړ.
له دغو اوو پروژو څخه پنځه یې د افغانستان په جنوب کې د برېښنا د تولید زیاتول وو، څو دوکانونه او په برښنا چلیدونکې کارخانې پرې روښانه کړي.
ټاکل شوې وه، چې دا پروژې د ۲۰۱۳ میلادي کال په نیمایي کې، چې ناټو په افغانستان کې خپل جنګي ماموریت پای ته رسولو بشپړې شي.
وال سټریټ ژورنال په یوه مقاله کې، په افغانستان کې د بیارغونې پر چارو د څارنې لپاره د امریکا د سرپلټونکې ادارې د نوي رپوټ ځینې برخې راخیستي دي.
"په رپوټ کې ویل شوي، چې د سرحدي پولیسو زیاتې پوستې، چې د امریکا په مرستو جوړې شوې دي، اوس متروکې دي او یا کار نه ورڅخه اخیستل کیږي.
دې مسلې د افغانستان کورنیو امنیتي ځواکونو ته د امنیت ټینګولو د مسولیت سپارلو په اړه پوښتنې پیدا کړې دي."
دا رپوټ د دوشنبې په ورځ خپور شوی دی او د بیلګې په ډول د لالپورې د پوستې یادونه کوي، چې د ابو د نشتوالي په خاطر افغان سرحدي پولیس کار نه ورڅخه اخلي.
په رپوټ کې بل مثال د نازیانو د پوستې راغلی دی، چې ډېر ژر به له کاره ولویږي ځکه ودانی یې ډیره خرابه جوړه شوې ده او چټلو اوبو یې سراخیستی دی.
فارن پالیسي خپرونې په افغانستان کې د افغان او ناټو ځواکونو د تلفاتو په اړه یو رپوټ لیکلي دی.
دا خپرونه وایي، چې سږ کال د تیر په مقایسه د اپریل له میاشتې تر جون پورې د ناټو او افغان ځواکونو د تلفاتو اندازه یولیس فیصده لوړه شوې ده.
فارن پالیسي لیکي، د سرک په غاړه د ماینونو د زیاتیدو له امله زیات امریکایي عسکر زخمیان شوی دي او ډیر شمېر عسکرو په دې چاودونو کې د بدن غړي پرې شوي دي.

د افغانستان پر سرحدي سیمو ...
ورونه څخه تر لاسه کړي دي.
دغه ۱۵۵ ملي متره وسلې دي چې د پاکستان له حکومت پرته نور څوک دغه وسلې نه لري.
دا وسلې د طالبانو له وس څخه پورته دي، ځکه چې ډیرې درنې دي."
ښاغلي محمدي زیاته کړه، چې دوي دغه مسایل د بهرنیو چارواکو په ګډون بېلابېلو مراجعو ته وړاندې کړي خو تر اوسه یې کوم ځواب نه دی ترلاسه کړی.
د ملي امنیت مرستیال ډاکتر یاسین ضیا هم په ځرګند ډول وویل، چې دغه توغندي د پاکستان د پوځ دي او زیاته یې کړه، پاکستان غواړي له دې لارې بېلابېل اهداف پرمخ بوځي.
ډاکټر ضیا زیاته کړه، چې پاکستان غواړي د افغانستان د سرحدي سیمو خلک کډه ګولو ته اړ کړي ترڅو یې پرځای وسله وال مخالفین ځای پرځای کړي:
"پاکستان غواړي چې د کونړ، نورستان او نورو ولایتونو ځینې سیمې له اصلي اوسیدونکو څخه خالي کړي.
دوي اوږد مهال پلانونه لري او غواړي چې په دغو سیمو کې وسله وال مخالفین ځای پرځای کړي.
اوس چې موږ هره ورځ ځان وژونکي یا بل ترهګر نیسو وایي، چې موږ په پاکستان کې روزنه ترلاسه کړې.
پاکستان غواړي دغه تورونه له ځانه لرې کړي او دغه خبرې زموږ هېواد ته راشي او دلته د مخالفینو خالي جوړې شي."
د دفاع وزارت لوی درستیز جنرال شیرمحمد کریمي هم چې د مشرانو جرګې په استجوابیه غونډه کې برخه اخیستې وه وویل، چې دغه توغندي د پاکستان له خوا را توغول کیږي.
ښاغلي کریمي د دغو توغندیو په وړاندې د ایتلافي ځواکونو په چوپتیا انتقاد وکړ او وې ویل، چې ایتلافي ځواکونه په ځانګړې توګه امریکا نه غواړي چې له پاکستان سره ځان مخامخ کړي.
د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې د سږکال له پیل راهیسې د کونړ او ځینو نورولایتونو په سرحدي سیمو د پاکستان له خوا شااوخوا زر توغندي راغلي دي.
د مشرانو جرګې په غونډه کې امنیتي مسئولینو وویل، افغان ځواکونو د پاکستان د بریدونو ځواب ویلو ته چمتو دي، خو په دې اړه امر ته منتظر دي.
پخوا تر دې د افغانستان جمهور رئیس ویلي و، چې د پاکستان له خاورې د دغو حملو په وړاندې ورته عکس العمل ونه کړي، ځکه په دې سره د ډیورنډ کرښې اخوا هم ملکي خلک زیانمن کیږي.
په عین حال کې په دې وروستیو کې افغان حکومت ددې بریدونو د بندولو لپاره ډیپلوماتیکې هلې ځلې تیزې کړې.

موافقت افغانستان و پاکستان ...
فقید شورای عالی صلح، مذاکرات مهمی با رهبران سیاسی و نظامی پاکستان خواهد داشت تا بتواند موارد پیش‌بینی شده در زمان سفر سال گذشته پدرش به اسلام آباد را بار دیگر احیا کند.
پاکستان پس از اینکه صلاح‌الدین جایگزین پدرش شد وی را به اسلام‌آباد دعوت کرد اما وی پس از سفر اخیر "راجا پرویز اشرف" صدر اعظم پاکستان به کابل این دعوت را پذیرفت.
به گزارش سایت خبری "تریبون" پاکستان به نقل از مقامات وزارت خارجه، اعضای شورای عالی صلح، نماینده افغانستان در کمیسیون مشترک صلح بوده و رهبران قبایلی و سیاستمداران پشتون نیز به نمایندگی از پاکستان در این کمیسیون حضور خواهند داشت. پاکستان به منظور تدوین یک ستراتیژی مشترک برای صلح با طالبان، با افرادی که در لویه جرگه افغانستان در ماه اگست سال ۲۰۰۷ در کابل حضور داشتند تماس خواهد گرفت.
"آفتاب احمد خان" وزیر داخلهء سابق، "اسفندیار ولی خان" رهبر "حزب ملی عوامی" و "محمود خان اڅکزی" رهبر شجاع و خردمند پشتون‌ها در ایالت بلوچستان از جمله شخصیت‌های برجسته‌ای هستند که به عنوان نمایندگان پاکستان در این رویداد مهم در کابل حضور داشتند.

د غزني په مقر ولسوالۍ کې...
طالبان وايي چې د دوی پرضد هیڅ ځای خلک نه دي پورته شوي او یو نیم ځای د اربکیانو له مقاومت سره مخامخ شوي دي.
د طالبانو ویندوی ذبیح الله مجاهد په ضمني ډول د بوبند پاڅون منلې او ویلي یې دي چې د مقر ولسوالۍ په بوبند کې د دوی یو شمېر مخالفان شته چې ژر به له منځه یووړل شي.
ښاغلي مجاهد دا کسان سیمه ییز اربکیان وبلل.

پاکستان افغان کډوال له کارتونو ...
پروګرام دنده په غاړه لري، د ګاردین ورځپاڼې ته ویلي دی: (پاکستان به په دې اړه خپل دریځ بدل نه کړي، زموږ هدف روښانه دی، او د افغان کډوالو شتون زموږ د قانون، امنیت، د نفوس د زیاتوالي، اقتصاد او کلتور ته یو لوی ګواښ دی، موږ نور زغم نه لرو.)
ده زیاته کړه که چېرته نړیواله ټولنه د دوي هکله دومره په دې اندېښنه لري نو خپلو هېوادونو ته دې واستوي، لکه امریکا، کاناډا، استرالیا، اوروپا او نور......
ده وویل چې (پاکستان د افغان کډوالو تر دېرشو کلونو زیات کوربتوب کړی دی چې لامل یې د روسانو یرغل، داخلي جنګونه، د طالبانو رژیم، او د امریکا یانوا وسني جنګونه دي. نوی نسل ټول په پاکستان کې ستر شوی دی او خپل هېواد نه پېژني کوم چې د نړۍ تر ټولو ډېر کډوال دي.)
د یادونې وړ ده چې دا محال یو اعشاریه اوه میلونه خلک په پاکستان کې راجسټر دي چې تر نیمایي زیات یې د اتلس کلنۍ څخه کم عمر لري، شېږ لکه درېش زره کډوال اوس هم په کمپونو کې اوسیږي، او له یو میلون نه زیات کډوال په غیر قانوني ډول په پاکستان کې مېشت دي.
خان زیاته کړه چې د ۲۱۲م کال له ډسمبر د دریرشمې نېټې وروسته به افغان مهاجر کارتونه د اعتبار وړ نه وي او د دوي شړلو لړۍ به پیل شي کوم د پاکستان ایالاتي حکومت د دوي د ویستلو وار د مخه غوښتنه کړې وه.
د پاکستان حکومت وایي چې د ـ یو، این، ایچ، سي، ار ـ د افغان کډالو د بیرته ستنېولو لړې پخوا پیل کړې ده ، خوا دالړۍ ډېره پسه او ورو ده، په دې کال کې ـ یو ،این، سي ار پدې توانېدلي چې یواځې ۴۱۰۰۰ زره افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته ستانه کړي کوم چې د ۲۰۱۱م کال په پرتله لږ ډېر دي چې شېمر یې ۳۵۰۰۰ زره و.
د پاکستان حکومت وایي چې له ۲۰۰۲ کار راهیسې [یو این ایچ سي ار] له درې میلونو زیات افغان کډوال بیرته خپل وطن ته ستانه کړي دي خو بیاهم د افغان کډاولو شمېر په هماغه اندازه زیات په کومه اندازه چې په ۲۰۰۲ م کال کې و، او ددې دلیل دا دی چې افغان کډوال له ستنېدو وروسته بېته پاکستان ته راوړي.

کمک مالی نمیتواند یک اقتصاد ...
اقتصادی وجود دارد که خود مردم این کشور را به رشد اقتصادی تشویق نمی کنند و برعکس آنها را وابسته می سازد، در حالی که افغانها به عملی شدن پروژه های نیاز دارند که اقتصاد این کشور در آینده بدست خود آنها قرار بگیرد. به این معنی که افغانستان به یک نمونه نو اقتصای نیاز دارد. چین و هند در بخش خصوصی و معادن افغانستان که شبکه های زیربنائی می باشند سرمایه گزاری کرده اند و غرب هم باید عین روش را تعقیب نماید و با قبول یک اندازه خطر برای درازمدت در افغانستان سرمایه گذاری کند.
به نوشته روزنامه، احمد رشید و الکسیس کروا بر موقف سیاسي امریکا در افغانستان هم انتقاد دارند و به نظر آنها واشنگتن روش استعماری قرن ۱۹ را در افغانستان پیش گرفته و به فرهنگ، ارزشها و خواسته های طرف مقابل هیچ اهمیت نمیدهد و انتظار آنست که طالبان هم تسلیم شوند، در حالی که طالبان خواهان مذاکرات بین دو جناح مساوی می باشند.
به نظر تحلیلگران تنها وقتی که غرب از تحمیل تصورات خود برای صلح و حاکمیت ملی در افغانستان صرف نظر کند می تواند شرایط را برای صلح آماده بسازد. طالبان همیشه می گویند، وقتی که امریکایی ها خارج شوند، افغانها در بین خود می توانند مشکلات خود را حل کنند. این یک تهدید نیست بلکه یک تاکید می باشد.
از سوی دیگر به نوشته احمد رشید و الکسیس کروا صلح در افغانستان تنها با تلاش های سیاسی حکمفرما نخواهد شد، بلکه سکتور های دیگر جامعه هم در مصالحه ملی نقش دارند. ثبات و رشد در افغانستان تنها در صورت حکفرما می شود که مردم این کشور در برداشت منافع سهیم باشند و یک سکتور خصوصی تشویق کننده، ایجاد گردد.
به نوشته روزنامه هنوز دوسال دیگر به خروج قوای ناتو از افغانستان مانده و ایالات متحده وقت دارد که ستراتیژی خود را تغییر بدهد، زیرا ریختن ملیاردها دالر کمک جز مشکل افغانستان به شمار می رود نه راه حل آن.

د هېواد پوهنتونونه به د نړۍ...
د ښوونې او روزنې او طبي پوهنتونونو تر څنګ د ننګرهار، کندهار او بلخ ولایتونو پوهنتونونه سره وصل شي.
همدارنګه د لوړو زده کړو وزیر عبیدالله عبید هم د لوړو زده کړو د کیفیت د لوړوالی اود انټرنټ له لارې له نړیوالو پوهنتونونو سره د هیواد د پوهنتونونو ترل یې ډیر اړین وبلل.
نوموړي وویل ددې پړاوو بودجه درې میلیونه امریکایي ډالره کیږي چې د مخابراتو وزارت له لورې ورکول کیږي.

هاشمزی: تصویب قانون منع ...
نهایی و تصویب هم شود، تطیق آن دشواری های دارد و ایجاب می کند که حکومت به گونهء در هر مراسم عروسی اشتراک کند، شماری مهمانان را حساب نماید و در مورد مصارف عروسی قضاوت کند.
اما منتقدین می گویند، این قانون برخلاف حقوق زنان بوده و مداخله در امور خصوصی مردم تلقی می شود. آنها اضافه می کنند که با تطبیق این قانون حکومت دوباره مقررات طالبان را نافذ می کند که در آن زمان عروسی ها نظارت می شد و موسیقی منع بود.
از سوی دیگر، کابینه افغانستان نیز در مورد این قانون اختلاف نظر دارند که به گفتهء مشاور وزارت عدلیه، پس از رفع این اختلافات مسودهء قانون برای جلوگیری از مصارف در عروسی ها به شورای ملی، پیشنهاد خواهد شد.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین خواجه وحیدالله
آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com